مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

هېواد

ورځپاڼه

یکشنبه | ۱۹ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۱۴ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/5 م | خصوصي ګڼه: ۷۷ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۴۸ مه | دوره: اتمه

مولوي امير خان متقي:

د افغانستان او بنګله‌دېش د سوداګرۍ ظرفيتونه بايد اغېزمن وکارول شي

د افغانستان د بهرنيو چارو وزير مولوي امير خان متقي په تهران کې د بنګله‌دېش د جمهوريت د پارلمان له رئيس حافظ‌الدين احمد سره ليدنه وکړه.

د بهرنيو چارو وزارت ويلي، په دې ليدنه کې د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د دوه‌اړخيزو اړيکو د پراختيا، په ځانګړې توګه د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د ودې، د متقابلو فرصتونو د رامنځته کولو او د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړيکو د لا پياوړتيا په اړه خبرې وشوې.

مولوي امير خان متقي د افغانستان او بنګله‌دېش ترمنځ د سوداګرۍ او اقتصادي همکاريو موجود ظرفيتونه د پام وړ وبلل او ټينګار يې وکړ، چې د دواړو هېوادونو اړوند بنسټونه بايد له شته فرصتونو څخه د متقابلو اقتصادي ګټو، پانګونې او سوداګريزو اړيکو د پراختيا لپاره اغېزمنه استفاده وکړي.

په ورته مهال د بنګله‌دېش د پارلمان رئيس د افغانستان او بنګله‌دېش اړيکې تاريخي او دوستانه وبللې او څرګنده يې کړه، چې د سوداګريزو او اقتصادي اړيکو پراختيا د دواړو هېوادونو خلکو په ګټه ده او کولی شي د متقابلو همکاريو نوی باب پرانيزي.

سياسي شنونکي باور لري، چې د افغانستان او بنګله‌دېش د لوړپوړو چارواکو دا ډول ليدنې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سياسي تفاهم، ډيپلوماتيکو اړيکو او متقابل اعتماد د پياوړتيا لپاره مهم ارزښت لري. د دوی په اند، د سياسي اړيکو پراختيا کولای شي د اقتصادي، سوداګريزو او سيمه‌ييزو همکاريو د لا پراخېدو زمينه برابره کړي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ګډو ګټو پر بنسټ د دوامدارو اړيکو د ټينګښت لامل شي.

د افغانستان او ايران د خصوصي سکټور ترمنځ د همکاريو د پراختيا په موخه درې هوکړه‌ليکونه لاسليک شول

په کابل کې د ايران سفارت په کوربتوب په جوړه شوې مېلمستيا کې، چې د افغانستان او ايران له ۲۰۰ څخه ډېرو اقتصادي فعالانو، صنعتکارانو او پانګوالو پکې ګډون کړی و، د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګريزو همکاريو د پراختيا په اړه خبرې وشوې.

په کابل کې د ايران سفارت ويلي، په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو اقتصادي فعالانو د ودانيزو صنعتونو، درمل جوړونې، لابراتواري تجهيزاتو، خوراکي صنعتونو، بټرۍ جوړونې او تخنيکي او انجنيرۍ خدمتونو په برخو کې تخصصي ليدنې او خبرې کړې. ياد پروګرام د افغانستان او ايران د خصوصي سکټورونو ترمنځ د همکاريو د پراختيا په موخه د دواړو هېوادونو د شرکتونو ترمنځ د دريو هوکړه ليکونو په لاسليک کېدو سره پای ته ورسېد.

د افغان ازبېک ګډ بازار تخصصي مرکز د پاکستاني روغتونونو بديل ګرځېدلی

د افغانستان د ناروغانو پرمخ د پاکستان د لارو تړل کېدو له امله، د ازبکستان د ترمذ ښار د ګډ بازار روغتون ته د ناروغانو روغتون د درملنې د يوه تخصصي مرکز په توګه، د ۲۵ تخصصي څانګو او څه باندې ۴۰ ډاکټرانو په لرلو سره د هېواد له بېلابېلو

ورتګ زيات شوی دی. په داسې حال کې، چې په افغانستان کې د تخصصي روغتيايي خدمتونو اړتيا ورځ تر بلې زياتيږي، د افغان ـ ازبېک د ګډ بازار ولايتونو ناروغانو ته روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي. د ياد روغتون مسؤلين وايي: په تېرو دوو کلونو کې له افغانستانه د درملنې لپاره ۱۳۴ زرو …

۳مخ

له کندهار څخه ۱۸۲ زره ټنه مېوه بهرنيو هېوادونو ته صادره شوې

د کندهار د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي، چې تېر ۱۴۴۷ کال په اوږدو کې له دغه ولايت څخه ۱۸۲ زره ۳۸۱ ټنه وچه او تازه مېوه د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته صادره شوې ده.

سرچينې زياته کړې، چې د تېر کال د صادرې شوې مېوې ټوليز ارزښت ۴۲۸ ميليونه او ۸۶۳ زره امريکايي ډالره کېږي.

د افغانستان مېوې چې د ځانګړي خوند او ښه کيفيت څخه برخمنې دي په دې وروستيو کلونو کې يې د صادراتو کچه په زياتېدو ده او دا مهال د عوايدو له مهمو سرچينو څخه بلل کېږي.

په همدې حال کې، اقتصادي شنونکي ټينګار کوي چې د کرنيزو صادراتو زياتوالی نه يوازې د بزګرانو د عايد په لوړولو کې مهم رول لري، بلکې د هېواد د بهرنيو اسعارو په زياتوالي او د سوداګريز توازن په ښه کولو کې هم اغېزمن تمامېږي. د دوی په وينا، که د بسته‌بندۍ، سړو خونو، لېږد او د صادراتو د زنجير نورې برخې لا پياوړې شي، نو د افغانستان کرنيز محصولات کولی شي په نړيوالو بازارونو کې لا پراخ حضور ومومي.

همدارنګه، د خصوصي سکټور استازي وايي، چې د صادراتو په دې کچه دوام کول به د زرګونو کسانو لپاره د کار زمينه برابره کړي او د کرنې له سکټور څخه به د ملي اقتصاد ونډه لا زياته کړي. دوی زياتوي چې د معياري …

۳مخ

ساها هوايي شرکت د کابل او ايران ترمنځ نوې الوتنې پيل کړې

ساها هوايي شرکت، د ايران د شېرېم هوايي شرکت په توګه، د تهران ـ کابل، مشهد ـ مزارشريف او مشهد ـ کندهار پر لارو خپلې الوتنې پيل کړې. د چارواکو په وينا، دا اقدام به د افغانستان او ايران ترمنځ هوايي اړيکې پياوړې او د ټرانسپورټي همکاريو …

۳مخ

سرليکنه

افغان ځوانان د ټکنالوژۍ نوی باب پرانيزي

نن د نړۍ د پرمختللو هېوادونو ترمنځ سيالي يوازې په پوځي او اقتصادي قوت نه کېږي، اوسنۍ سيالۍ د علم، ټکنالوژۍ او نوښت په ډګر کې هم روانه ده. هر هغه ملت چې د خپلو ځوانانو استعدادونو ته وده ورکړي او د علمي نوښتونو لپاره ورته زمينه برابره کړي، نو دا د راتلونکي پرمختګ بنسټ هم پياوړی کوي. د افغان متخصصانو وروستۍ لاسته راوړنه هم د همدې حقيقت څرګندونه کوي.

د ټکنالوژۍ برخې يو شمېر افغان کارپوهانو داسې پرمختللی ډيجيټلي اداري او مالي سيستم جوړ کړی چې د انټرنېټ له اړتيا پرته کار کوي او د کاروونکو ټول معلومات د هغوی په خپل کمپيوټر کې خوندي ساتي. دا نوښت د معلوماتو د امنيت، د ادارو د چټکو خدمتونو او د بومي ټکنالوژۍ د ودې له پلوه مهم پرمختګ بلل کېږي.

الحمدلله، نن په افغانستان کې د علم، مسلکي روزنې، فکري ودې او تخنيکي وړتياوو د پياوړتيا لپاره پاملرنه د پخوا په پرتله زياته شوې ده. د افغانستان اسلامي امارت هڅه کوي چې د هېواد د بشري ظرفيتونو د روزنې او د بومي استعدادونو د ملاتړ لپاره مناسب چاپېريال رامنځته کړي. د همدې پاملرنې پايله ده چې افغان ځوانان په بېلابېلو علمي او تخنيکي برخو کې د پام وړ نوښتونه وړاندې کوي.

دغه پرمختګونه هغه تبليغات هم بې‌اعتباره کوي چې کلونه يې ادعا کوله ګواکې اسلامي امارت به د علم، ټکنالوژۍ او پرمختګ مخه ونيسي. اوسنۍ شته واقعيتونه بل تصوير وړاندې کوي. په بېلابېلو برخو کې د افغان متخصصانو نوښتونه، د تخنيکي ظرفيتونو پراخېدل او د بومي حللارو رامنځته کېدل دا څرګندوي چې د هېواد علمي او مسلکي بهير مخ پر ودې دی.

د معلوماتو امنيت د ډيجيټلي نړۍ له مهمو اړتياوو څخه دی. هغه سيستمونه چې د انټرنېټ له دوامداره اتصال پرته فعاليت کوي او معلومات په محلي ډول خوندي ساتي، د سايبري ګواښونو د کمولو او د ادارو د معلوماتي خپلواکۍ لپاره ځانګړی ارزښت لري. له همدې امله د افغان کارپوهانو دا نوښت يوازې يو تخنيکي محصول نه دی، بلکې د هېواد د ډيجيټلي ځان‌بسياينې پر لور يو مهم ګام هم دی.

افغانستان له باستعداده ځوانانو او مسلکي کادرونو ډک هېواد دی. هر ځل چې دوی ته د کار، څېړنې او نوښت زمينه برابره شوې، داسې لاسته راوړنې يې وړاندې کړې چې د هېواد اړتياوې يې پوره کړې دي. دا حقيقت ثابتوي چې د افغانستان راتلونکی يوازې په طبيعي زېرمو نه، بلکې د خپلو ځوانانو په علم، فکر او نوښت هم روښانه کېدای شي.

د بومي ټکنالوژۍ د پراختيا ملاتړ، د متخصصينو هڅونه او د علمي ظرفيتونو پياوړتيا د هېواد د اقتصادي، اداري او تخنيکي خپلواکۍ مهم بنسټونه دي. که دا بهير همداسې دوام ومومي، افغانستان به په راتلونکو کلونو کې د ټکنالوژۍ او نوښت په برخه کې نورې ارزښتناکې لاسته راوړنې هم ولري.

کابل کې د ګرمۍ له زياتېدو سره د برېښنا پرچاوې زياتې شوې

د هوا له ګرمېدو سره هم‌مهاله، په وروستيو ورځو کې د برېښنا د پرچاوې زياتوالي د کابل د اوسېدونکو لپاره پر يوه جدي ستونزه بدل شوی دی. د کابل اوسېدونکي د دغه وضعيت له دوامه اندېښنه څرګندوي او وايي، د هوا د تودوخې له لوړېدو سره د برېښنا اړتيا هم ډېره شوې؛ خو د برېښنا کمښت د دوی ورځنۍ ژوند او کاري چارې له ګڼو ستونزو سره مخ کړې دي.

د کابل اوسېدونکي، عصمت‌الله وايي: «په دې ورځو کې برېښنا ډېره کمه شوې ده. له سهار لمانځه وروسته، چې برېښنا پرې کېږي، تر غرمې پورې نه راځي او دا وضعيت موږ له ډېرو ستونزو سره مخ کړی دی.»

د کابل يو بل اوسېدونکي، مدثر هم وايي: «د پخوا په پرتله د برېښنا پرچاوې ډېرې شوې دي. که د برېښنا د پرې کېدو او وصلېدو لپاره ټاکلی مهالوېش جوړ شي، خلک به وکولای شي خپل کارونه تنظيم کړي او له برېښنا ښه ګټه واخلي.»…

۳مخ

د افغاني سرې مياشتې ټولنه خپل روغتيايي خدمتونه پراخوي

د افغاني سرې مياشتې ټولنې عمومي رئيس شيخ شهاب‌الدين دلاور له رسنيو سره په مرکه کې ويلي، چې د دې اداري مجهز د زړه روغتون به ډېر ژر په کابل کې پرانيستل شي. نوموړي زياته کړې، دغه مرکز کې به هر کال شاوخوا دوه زره هغه ماشومان چې د زړه په ناروغيو، د زړه په سوري (د زړه د دېوال سوري) اخته وي، په وړيا توګه درملنه او عمليات ترلاسه کړي. ښاغلي دلاور همدارنګه ټينګار کړی، چې د افغاني سرې مياشتې ټولنه د طبيعي پېښو له زيانمنو شويو کسانو سره د مرستې او بېړنه راستنېدونکو کډوالو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره بشپړ چمتووالی لري …

۳مخ

کاپيسا کې سږ کال څه باندې ۴۵ زره مټريک ټنه د غنمو حاصلات راټول شوي

د کاپيسا د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست مسئولين وايي، چې سږ کال په دغه ولايت کې ۴۵ زره ۶۹۱ مټريک ټنه غنم راټول کړل شوي، چې د تېر کال په پرتله ۲ سلنه زياتوالی ښيي.

د کرنيزو چارو امر خواجه محمد شفيع صديقي باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې سږکال پر ۱۲ زره ۳۵۳ هکټاره اوبيزه او ۳۰۰ هکټاره للمي ځمکه غنم کرل شوي وو او د ولايت د غنمو شاوخوا ۴۰ سلنه اړتيا يې پوره کړې ده. د نوموړي په وينا، د اصلاح شويو تخمونو او کېمياوي سرو کارول، د نباتي افتونو کنټرول او د زرګونو بزګرانو تخنيکي روزنه د حاصلاتو د زياتوالي مهم عوامل دي.

د يادونې وړ ده، چې د کرنې رياست پلان لري په راتلونکي کال کې هم د کاپيسا د دوو ولسواليو پر زر بزګرانو اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي سرې ووېشي.

د زابل شاجوی ولسوالۍ کې ځايي خلکو د ۹ ښوونځيو لپاره ودانۍ جوړې کړي

د زابل د شاجوی ولسوالۍ اوسېدونکو له تېرو دوو کلونو راهيسې په خپل شخصي لګښت د نهو ښوونځيو لپاره ودانۍ جوړې کړې دي. پر دغو ښوونځيو درې ميليونه افغانۍ لګښت راغلی چې ۱۵ زره زده کوونکو ته يې په خوندي چاپېريال کې د زده کړو زمينه

برابره کړې ده. د شاجوی ولسوالۍ د پوهنې آمر، حبيب الرحمن شاهد وايي: «موږ سره د پوهنې بهير د عام کېدو په برخه کې خلک ډېره مرسته کوي او توانېدلي يو، چې په تېرو دوو کلونو کې د شاجوی ولسوالۍ د نهو ښوونځيو لپاره ودانۍ، چې درې ميليونه افغانۍ لګښت پرې راغلی، جوړې کړو. د څښاک پاکو اوبو او برېښنا په برخه کې هم خلکو…

۳مخ

د نوښت فلسفه؛ ستر بدلونونه څنګه زېږي؟

احمد ولید کنان

د بشــري تاریــخ هر ســتر بدلون له یوې پوښــتنې، یوې نوې مفکورې او د یوه جرئــت لرونکي ذهن له هڅې څخه پیل شوی دی. تمدنونه، علمي انقلابونــه، صنعتــي پرمختګونه او اقتصــادي بدلونونه په ناڅاپي ډول نه دي رامنځته شوي، بلکې تر شا یې د هغو انسانانو دوامدار فکر، ژوره څېړنه او د نوې لارې د موندلو هڅه ولاړه وه چې له دودیزو لارو یې د تګ پر ځای د نــوو افقونو د پرانیســتلو اراده لرله. همدې حقیقت ته په کتو، نوښــت د پرمختــګ روح، د تمدن محرک او د ملتونو د ځواک مهم عامل بلل کېږي. هره ټولنه چې د نوښت فرهنګ پیاوړی کړي، د ستونزو د حل نوې لارې پیدا کوي، اقتصادي ورتیا یې لوړېږي او د علمي ســیالۍ په ډګر کې خپل ځای پیاوړی کوي.

د نوښت فلســفه له دې ځایه پیلېږي چې انســان هېڅ حالت وروستی او بشــپړ نه ګڼي. هره لاسته راوړنه د نښه کېدو ور ګڼل کېږي، هره ستونزه د حل امکان لري او هره پوښتنه د یوې نوې موندنې دروازه پرانېســتلای شي. دا ډول فکر د انسان ذهن له جمود څخه ژغوري او د تخلیق ځــواک پیاوړی کــوي. هغــه ټولنې چې د پوښــتنې کولــو، ازمویني او تجربې ارزښــت پېژني، د علــم او صنعت په ډګر کې د پام وړ پرمختګ کــوي. برعکس، فکري جمود او د تقلید دوام د نوښت دروازې ورو ورو تــړي او د پرمختګ سرعت کموي.

اســلام هم د فکر، تدبــر او د کایناتو د نښــو د مطالعې بلنــه ورکوي. الله تعالــی فرمایي: (قُــلْ هَلْ يَسْــتَوِي الَّذِيــنَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِيــنَ لَا يَعْلَمُونَ) [الزمر: ۹]؛ یعنې: «ووایه، ایا پوهان او ناپوهان یو شــان کېدای شي؟» دا آیت د علم مقام لوړوي او انسان دې ته هڅوي چې د پوهې د زیاتولو لپاره تل هڅه وکړي. قرآن کریم په لسګونو ځایونو کــې د اســمانونو، ځمکې، غرونو، سمندرونو، نباتاتو او د انسان د خلقت په اړه د فکر کولو بلنه ورکوي. دا لارښوونې څرګندوي چې اسلامي فکر د څېړنــې، تدبر او علمي موندنو لپاره پراخ افق پرانیزي.

د رسول الله ﷺ سیرت هم د نوښت او تدبیــر عملي بېلګې لري. د خندق پــه غزا کــې د خندق کینــدل د هغه وخت پــه عربو کې معمــول پوځي تدبیر نه و، خو د مناســبې مشــورې او د شــرایطو د دقیقې ارزونې له امله غوره شــو او اغېزمنه پایله یې ورکړه. له دې تجربې څخه دا درس ترلاســه کېږي چې نوښــت تل د نویو وسایلو په معنا نه وي؛ ځینې وخت د موجودو امکاناتو اغېزمن تنظیم هم ستر بدلون رامنځته کوي.

د اســلامي تمــدن د زرینــې دورې عالمان د نوښــت د همــدې روحیې استازي وو. الخوارزمي د الجبر علم ته نوې بڼه ورکړه، ابن هیثم د تجربوي څېړنې له لارې د رڼا او لید په اړه نوې نظریې وړاندې کړې، ابن سینا د طب په برخه کې داسې علمي آثار ولیکل چې پېړۍ پېــړۍ د نړۍ په پوهنتونونو کــې تدریس کېــدل او الجــزري د میخانیکي وســایلو پــه جوړولو کې داسې نوښــتونه وکړل چې د انجینرۍ په تاریخ کې ځانګړی ځای لري. دغو عالمانو د تکــرار پر ځای د څېړنې او نوې لارې د موندلو فکر غوره کړی و.

د نړۍ معاصر پرمختګ هم د نوښت له فلسفې بېل نه دی. صنعتي انقلاب هغه وخت رامنځته شــو چې انسانانو د تولیــد دودیــزې لارې بدلې کړې. وروسته د برېښنا، مخابراتو، کمپیوټر، انټرنېــټ او مصنوعي ځیرکتیا په څېر بدلونونــو د نړۍ اقتصــادي او ټولنیز جوړښت په ژوره توګه بدل کړ. د دغو ټولو بدلونونو تر شا یوه ګډه ځانګړتیا لیدل کېږي؛ هغه دا چې چا له موجود حالت څخه د ښه حل د موندلو هڅه وکړه او د نوې مفکورې د عملي کولو جرئت یې درلود.

نوښت له خطر منلو پرته وده نه کوي. هره نــوې مفکوره د بریــا تضمین نه لري. ځینې تجربــې بریالۍ کېږي او ځینې ناکامېږي، خو همدغه ناکامۍ د راتلونکو بریاوو لپــاره نوې تجربې برابــروي. د نړۍ ډېری ســتر اختراع کوونکي لســګونه ځله ناکام شوي، خو د هڅې دوام یې بالاخره د نوښت دروازې پرانیســتې دي. لــه همدې امله د ناکامۍ وېره د نوښــت تر ټولو لوی خنډ دی، حــال دا چې تجربه د پرمختګ مهمه وسیله ده.

ښوونیز نظام د نوښت د روزنې تر ټولو مهم چاپېریــال دی. که زده کوونکي یــوازې د معلوماتــو په حفــظ کولو عادت شــي، د تخلیقي فکر فرصتونه محدودېــږي. که هغوی د پوښــتنې کولو، څېړنــې، اســتدلال او عملي تجربو لپاره وهڅول شــي، نوښــتګر ذهنونه روزل کېــږي. هغه پوهنتونونه چې څېړنه، ازموینه او ګډ علمي کار ته لومړیتوب ورکوي، د علم د تولید او اختراع لپاره اغېزمن چاپېریال رامنځته کوي.

اقتصاد هم د نوښــت له کچې ســره مســتقیمه اړیکه لري. هغه هېوادونه چې د څېړنې، ټکنالــوژۍ او اختراع ملاتړ کــوي، د نړیوالــو بازارونو په ســیالۍ کې مخکښ پاتــې کېږي. د نــوې ټکنالوژۍ تولیــد، د کیفیت لوړول، د لګښــتونو کمول او د بازار د اړتیاوو درک د نوښت له لارې ممکن کېــږي. همدا لامــل دی چې د نړۍ ســتر اقتصادي ځواکونه هــر کال د څېړنې او نوښت لپاره ملیاردونه ډالر ځانګړي کوي.

افغانســتان هم د نوښــت لپاره پراخ فرصتونــه لري. د کرنې په برخه کې د اوبو اغېزمن مدیریت، د انرژۍ بدیلې ســرچینې، د کانونو د استخراج نوې طریقې، د لاســي صنایعــو معیاري کول، د معلوماتــي ټکنالوژۍ پراختیا او د ځوانانــو د مهارتونو لوړول هغه برخې دي چې د نوښت له لارې پکې د پام وړ بدلون راوســتل کېدای شي. د هېواد د طبیعي ســرچینو شتون هغه وخت اقتصادي ارزښــت پیدا کوي چې ورســره علم، تخنیک او تخلیقي فکر هم مل وي.

د نوښــت فرهنګ د باور، ازاد فکر او مسئولیت غوښتنه کوي. هغه چاپېریال چې د نوې مفکــورې درناوی وکړي، د علمي بحث زمینــه برابره کړي او د ورتیــاوو ملاتړ وکړي، د ســتر بدلون لپاره مناسب فرصت رامنځته کوي. په مقابل کې، هغــه فضا چې د هر نوي فکر پر وړاندې د رد او تمسخر چلند غوره کــړي، د اســتعدادونو د پټېدو سبب ګرځي.

هو! د نوښت فلسفه د بشري پرمختګ لــه مهمــو رازونو څخــه ده. تاریخ، اســلامي تمــدن او د معاصرې نړۍ تجربې ټــول دا حقیقــت څرګندوي چې ســتر بدلونونه د لویــو امکاناتو له امله نه زېــږي، بلکې د لوی فکر، ژورې څېړنــې، پرله‌پســې هڅې او تخلیقي ذهن له برکته رامنځته کېږي. هــر هغه ملت چې د علــم، څېړنې، ازاد فکــر او نوښــت فرهنګ پیاوړی کــړي، د پرمختګ نــوې دروازې به پر ځان پرانیزي او د راتلونکو نســلونو لپاره بــه د ســوکالۍ، علمي ځواک او اقتصادي ودې روښــانه راتلونکی جوړ کړي.

حقــوق بشــر
د غرب له لوري د فشار او استعمار نوې تګلاره

لیکنه: رحمت ګل «همت»

کابو ۷۸ کاله وړاندې له دوهم نړیوال جنګ وروســته غربي هېوادونو د بشر د حقوقــو د تعریــف او دفــاع لپاره د (Human Rights) په نوم د بشــري حقوقو نړیوال ســازمان په نړۍ وتپلو، چې وروسته بیا یاد سازمان او تګلاره غربي هېوادونو بالخصوص نړیوال ابر قدرت امریکا د خپلو شــومو سیاسي اهدافو، اســتعمار او پر ملتونو د فشار راوړلو لپاره یوه وسیله وګرځوله.

د لیبیا، عراق، ســوریه، افغانستان او بالاخره په فلسطین کې د ټولو نړیوالو اصولو خلاف چې څومــره ظلمونه، نســل وژنې او وحشتونه دوی وکړل د همدې دروغینو ادعاوو او مکر لاندې خپل شوم اهداف تر لاسه کول.

خــو د حقوق بشــر د مدعیانو اصلي څېره او مکاره نعــره هغه وخت نړۍ تــه دروغین ثابت شــول، کله چې په غــزه کې د همــدې مدعیانو له لوري او تر ســترګو وړاندې د نسل وژنې یوه لویه فاجعه ترســره شــوه، د همدغو کاذبــو مدعیانو لــه لوري پــه لیبیا، عراق، ســوریه، افغانستان او فلسطین کې میلونونه بې ګناه بشــر ووژل شو، روغتونونه او ښوونځي یې بمبار کړل، لکونه کورونه یې ویجاړ کړل، میلونونه انسانانو سره یې په زندانونو کې داسې شــکنجې او وحشــتونه وشول چې د بشر روح ور څخه وېره کوي؛ خو یاد سازمان د خپل بادار له ویرې د هغوی پر ټولو بشــر ضد کړنو او نســل وژنو چوپه خوله او پټې سترګې پاتې شو او د دوه مخي سیاست، د غربي ګټو پالل او د نړیوالو قدرتونو په یوه نانځکه تبدیل شو. په ګران هېواد د امریکایي اشغال پر مهال امریــکا او د هغوی متحدینو هم پوره هڅه وکړه، چې د حقوق بشر غربــي تګلاره د افغانســتان پر مؤمنه او مجاهــده خاوره هــم پلي کړي، د حقوق بشــر، حقوق زن، ازادي بیان او ډیموکراسي په نوم غربي او فاحشو فکرونو ډول ډول پلانونه او سوژې پر لار واچولــې، تر څو افغان مســلمان نسل له اســلامي حقوقو څخه متنفره او په غربي ډیموکراســي یــې ولړي. د ســندرغاړو او موډلینــګ په نوم یې مســلمانو مېرمنو ته ډول ډول فکري سوژې تطبیق او د بې حیایۍ ریښې یې وغځولې او د تلویزیون او راډیوګانو له لارې یې ځوان نســل ته تر خپله وسه غربي فکر القاح کړ.

دوی د دومره یرغلونو ، نســل وژنو او وحشتونو ســره ســره خپل ځانونه په ډېر مکر او چل ســره د بشر د حقوقو مدافعین ګڼي او مونږ د بشــر د حقوقو ناقضیــن؛ خــو د جیفري اپســټن له جزیرې به اګاه یاست؟

هغــه زړه بوږونکــې قضیــه چــې د حقوق بشــر د مدعیانــو اصلي څېره یې نړۍ ته بربنده کړه، د اپســتین په نوم هغه جزیره چې د حقوق بشــر په نوم همدغــو مدعیانو به یاده جزیره کې په نابالغو نجونو جنســي تېری کولو او د هغوی غوښــې به یې خوړلې او وینې به یې څښلې، دې جزیرې ته د حقوق بشر ســتر کاذب مدافع د امریکا درېیو جمهور ریسانو هم سفرونه کړي دي.

د اپســتین قضیه، د غزې نســل وژنه او ناروا اســتعمارونو د دوی انسانیت څخه تور نقــاب لرې کــړ او د دوی اصلیت یې نړۍ ته څرګند کړ.

د دوی له لوری د عدالت، حقوق بشر او اخلاقو خبره د استعمار او فشار یوه نوې وســیله ده، حقیقــت دا دی چې غربي نړۍ د امریکا په رهبرۍ د جنګ د تولید او د انســانانو د نسل وژنې په فابریکې تبدیل شوې ده، له هیروشیما، ناکازاکي، افغانستان، عراق، سوریه او د غزې له نسل وژنو او خونړیو جنګونو پورې...

د امام محمد بن الحسن الشیباني رحمه الله ژوند او علمي خدمتونه

محمد بهادر حنیف

امام محمد بن الحســن الشــیباني رحمه الله د اســلامي فقهې د تاریخ له ســترو امامانو څخه دی او د امام ابو حنیفه رحمه الله له نامتو شاګردانو څخــه ګڼل کېــږي. د ده پــه لاس د حنفي فقهې بنسټونه مضبوط شول او د اســلامي حقوقي فکر په تاریخ کې یې ځانګړی مقام خپل کړ.

د ژوند لنډه پېژندنه یې:

امام محمد رحمه اللــه په اصل کې د خراســان له شــیبان قبیلې سره تړاو درلود؛ خــو د هغه علمي ژوند زیاتره په بغداد کې تېر شــو. هغه د دوهمې هجري پېړۍ په وروستیو کې وزېږېد او د دریمې پېړۍ پــه پیل کې وفات شو.

هغه په کوچنیوالي کــې د علم د زده کړې شــوق درلــود او ډېــر ژر یې د فقهې، حدیث او عربي علومو زده کړه پیل کړه.

استادان او علمي تربیه د امام محمد رحمــه الله تر ټولو لوی اســتاد: امام ابوحنیفه رحمه الله

نور استادان یې:

امام ابو یوسف رحمه الله

ســفیان ثوري رحمه اللــه (په ځینو روایتونو کې)

او د کوفې او عــراق نورو محدثینو او فقیهانو څخه یې هم علم اخیستی.

د امام ابو حنیفه رحمه الله له مکتب څخه یې د فقهې دقیق اصول زده کړل او وروسته یې هغه په کتابي شکل کې منظم کړل.

علمي خدمتونه او مقام:

امام محمد رحمه الله د حنفي مذهب د فقهې د تدوین (منظم کولو) په برخه کې خورا مهم رول لوبولی دی. د هغه خدمات په لاندې ډول دي:

۱. د حنفي فقهې تدوین

هغــه د امام ابــو حنیفه رحمــه الله نظریات او فتاوی په منظم ډول ولیکل او د فقهې اصول یې کتابي کړل، چې لــه امله یې حنفي مذهــب منظم او محفوظ شو.

۱. د اصولو او فروعو پراختیا

امام محمــد رحمه الله یوازې نقل نه کاوه، بلکې:

مسائل یې تحلیل کول

دلایل یې بیانول

او فقهي استنباط یې پراخ کړ

۳. د اســلامي حقوقــو علمي نظام جوړول

ده د اسلامي قانون (فقه) لپاره داسې بنســټ کېښــود چې وروســته ټول اسلامي نړۍ ترې استفاده وکړه.

مشهور کتابونه

د امــام محمد رحمه اللــه مهم آثار عبارت دي له:

الموطأ (د امام مالک روایت او د امام محمد شرح/نقل)

الجامع الصغیر

الجامع الکبیر

السیر الصغیر

السیر الکبیر

المبسوط

الزیادات

دا کتابونــه د حنفي فقهې اساســي سرچینې ګڼل کېږي.

په اسلامي فقه کې مقام:

امام محمد رحمه الله ته د «د حنفي مذهب دوهــم بنســټګر» هم ویل کېږي، ځکه:

د امام ابو حنیفــه رحمه الله فکر یې ژوندی وساته.

د امام ابو یوســف رحمه الله سره یو ځای یې مذهب منظم کړ.

د اسلامي فقهې د تطبیق عملي لارې یې روښانه کړې.

وفات:

امــام محمد رحمــه اللــه د علم په خدمت کې د عمــر زیاتره برخه تېره کړه او بالاخره په نیشــاپور کې وفات شو. لنډه دا چې:

امام محمد بن الحســن الشــیباني رحمه الله د اســلامي فقهې په تاریخ کې یو داسې ستوری دی چې د حنفي مذهب علمي بنسټ یې قوي او منظم کــړ. د هغه کتابونــه او فکري کارونه تر نن ورځې د اسلامي حقوقو مهمه سرچینه ده.

افغان اعلانات

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرف الدین فرزند محمد امین یک عراده موتر پلیت ۴۷۳۶۳-ل کابل نوع هینو جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای رحمن الله فرزند حبیب الله بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۲۰۵

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور زراعتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۳۰) سی جریب زمین امارتی واقع ساحه انتقات ولسوالی شکر دره دارای کوردینات نمبر (۳۸۴۰۱۱۳;Y ۵۱۵۷۳۱:X) به منظور فعالیت (زراعتی) که سالانه فی جریب به مبلغ (۲۱۰۰) دو هزار و یک صد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.۳۲۱۷

اطلاعیه به اجاره دهی جایداد

مدیریت عمومی انکشاف زمین، آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین امارتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمام داوطلبان و شرکت های محترمی که دارای تجربه مرتبط در امور زراعتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان، درخواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از :

موازی (۳۰) سی جریب زمین امارتی واقع انتقات ولسوالی شکر دره دارای کوردینات نمبر (Y: ۳۸۴۰۲۱۲ X:۵۱۵۸۲۵) به منظور فعالیت (زراعتی) که سالانه فی جریب به مبلغ (۲۱۰۰) دو هزار و یک صد افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های امارتی،به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.۳۲۱۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم بلاک های نبی زاده به اسم نور محمد فرزند محمد رحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۱۰

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تولد کارت خط به اسم فرید احمد مرادی فرزند پنجی مرادی ولدیت طوردیمراد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۳۲۱۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه اول باغ علی مردان به اسم میر مسجدی فرزند میر بازکر مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث دارای نمبر ۱۹۲۸۶ مهود پلخمری لمتید به اسم محمد بشیر فرزند محمد یعقوب مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۰۰

د افغان ازبیک ګډ بازار ...

زیاتو ناروغانو دې روغتون ته مراجعه کړې ده. د افغان - ازبیک ګډ بازار د روغتون د اړیکو مسؤل، عزیز بیک یې په اړه وایي: « له هغه وخته چې دې روغتون په ۲۰۲۴ کال کې خپل فعالیت پیل کړی، تر ۱۳۴ زره ډېرو افغان ناروغانو ته مراجعه کړې ده. موږ دلته ۲۵ څانګې او له ۴۰ څخه ډېر ډاکټران او متخصصین لرو. موږ د روسیې، ترکیې، هند او ازبکستان ډاکټران لرو او دلته د جراحی بېلابېل عملیات ترسره کېږي.»

د افغان - ازبیک د ګډ بازار روغتون ته، ډېری ناروغان د افغانستان له شمالي ولایتونو د درملنې په موخه ورځي.

د یاد روغتون ډاکټر، جان بیک وایي، دې روغتون ته تر ډېره د دماغو او اعصابو، هډوکو او یورولوژۍ ناروغان مراجعه کوي. « له افغانستانه دې روغتون ته تر ډېره د شکر، جاغور او د نسایي یا ولادي ناروغیو د درملنې په موخه راځي او همدارنګه موږ دوی ته طبي خدمات او مشورې هم ورکوو.»

بلخوا، یو شمېر ناروغان وایي، د افغانستان پولې ته د دې روغتون نږدېوالي روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی اسانه کړی او د نورو هېوادونو پرتله یې د درملنې لګښت او وخت راکم کړی دی.

دوی د دې مرکز د خدمتونو د پراختیا او د امکاناتو د زیاتوالي غوښتنه کوي.

د بلخ او جوزجان اوسېدونکي، نجیب الله او خان محمد یې په اړه وایي: « پخوا پاکستان، هند او یا هم ایران ته د تګ لګښتونه ډېر لوړ وو. اوس، الحمدلله، دلته هم خدمتونه ښه دي او هم نږدې دی. بیې یې مناسبې دي، دومره لوړې نه دي چې خلک ترې وډار شي. ډاکټران هم ښه معاینات او درملنه کوي او زه اوس د خپلې معاینې په تمه یم.»

« له هر اړخه ښه دی، په ځانګړي ډول له اقتصادي پلوه، هم نږدې دی، هم ښه پایلې لري. ناروغان په سمه توګه معاینه کوي، وسایل یې پرمختللي دي او ډاکټران یې هم ډېر تکړه دي.»

په داسې حال کې، چې په ځانګړي ډول پاکستان ته د افغانانو سفر د درملنې لپاره له ستونزو سره مخ شوی، یو شمېر افغان ناروغان اوس د درملنې لپاره د افغان ـ ازبیک د ګډ بازار روغتون ته مراجعه کوي.

ساها هوایي شرکت د کابل ...

د پراختیا لامل شي.

د دې شرکت مسئولین وایي: په یادو لاروکې به هره اوونۍ څلور الوتنې ترسره کېږي او موخه یې د مسافرو د تګ راتګ اسانتیا، د هوایي همکاریو پراختیا او د دواړو هېوادونو ترمنځ د الوتنې د ټکټونو د بیو راکمولو ده.

په افغانستان کې د ساها هوایي شرکت استازی، علي همدرد په دې اړه وایي: « موږ پلان لرو، چې د هغو هوایي شرکتونو پرتله، چې تر دې مخکې یې په افغانستان کې فعالیت درلود، د ټکټونو بیې تر ۵۰ سلنې پورې راکمې کړو.» په همدې حال کې، د سیاحتي شرکتونو ټولنه دا اقدام د کابل او تهران ترمنځ د هوایي اړیکو د پراختیا لپاره یو مهم ګام بولي او وایي، د الوتنو زیاتوالی کولی شي د سفر بهیر او ان د ویزې خدماتو ته لاسرسی هم اسانه کړي. د سیاحتي شرکتونو د ټولنې رئیس، احمد سیر رحیمي هم وایي: « دا د افغانستان لپاره یو مثبت ګام دی؛ ځکه د هوایي شرکتونو ترمنځ سالمه سیالي رامنځته کوي. د هغو شرکتونو ترڅنګ چې پخوا یې د کابل-تهران او کابل-مشهد پر لارو الوتنې کولې، اوس دې شرکت هم خپل فعالیت پیل کړی دی.»

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت هم اعلان کړی، چې دا مهال، په افغانستان کې د دوو کورنیو هوایي شرکتونو ترڅنګ، ۱۱ بهرني هوایي شرکتونه هم فعالیت لري.

له کندهار څخه ۱۸۲ زره ټنه ...

پروسیس او نړیوالو معیارونو ته د پاملرنې په صورت کې کولی شي د افغانستان مېوې د سیمې په مهمو صادراتي برانډونو بدلې شي.

د کندهار مېوې، چې پکې انګور، انار، زردالو او نور باغي محصولات شامل دي، په وروستیو کلونو کې د افغانستان د غیرنفتي صادراتو له مهمو توکو څخه ګڼل کېږي او د هېواد د اقتصادي ځانبسیاینې په هڅو کې مهم رول لوبوي.

کابل کې د ګرمۍ ...

د کابل اوسېدونکي وایي، د وارداتي برېښنا پر ځای باید د کورنۍ انرژۍ سرچینو تولید او ګټې اخیستنې ته ډېره پاملرنه وشي، تر څو دا ستونزه په بنسټیز ډول هواره شي.

د کابل اوسېدونکي، فرجاد ټینګار وکړ: ((موږ غوښتنه دا ده چې د هېواد اړتیا وړ برېښنا له کورنیو سرچینو تأمین شي، نه له نورو هېوادونو. تر هغه چې پر وارداتي برېښنا تکیه ولرو، هر وخت چې صادرونکي هېوادونه وغواړي، برېښنا پرې کوي او خلک له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي.))

بل لور ته، برېښنا شرکت وایي، د وروستیو پرچاویو اصلي لاملونه د اوړي په موسم کې د برېښنا د لګښت زیاتوالی، د برېښنا کمښت او د لېږد په شبکه کې ځینې تخنیکي محدودیتونه دي.

دغه شرکت ټینګار کوي، چې د پرچاویو د کمولو، د شبکې د ښه مدیریت او د برېښنا د وېش بهیر د ښه والي لپاره هڅې روانې دي.

د برېښنا شرکت ویاند، محمد صادق حقپرست وایي: ((د اوړي په موسم کې د هوا له تودېدو سره د برېښنا پرچاوي هم زیاتېږي؛ خو موږ ډاډ ورکوو، چې د برېښنا د تأمین په بهیر کې کومه ځانګړې ستونزه نشته. شته برېښنا به په عادلانه ډول او د ټاکلي مهالوېش له مخې د خلکو ترمنځ ووېشل شي.))

افغانستان د خپلې اړتیا وړ برېښنا لویه برخه له ګاونډیو هېوادونو څخه وارادوي او د اوړي په موسم کې د برېښنا د لګښت له زیاتېدو سره، په یو شمېر ولایتونو، په ځانګړي ډول کابل کې، د برېښنا پرچاوي هم زیاته شوې دي.

د افغاني سرې میاشتې ...

شیخ شهاب‌الدین دلاور د افغاني سرې میاشتې د بشري مرستو فعالیتونو ته په اشارې ویلي، چې دغه اداره د طبیعي پېښو، لکه زلزلو او سېلابونو پر مهال له لومړنیو مرستندویه بنسټونو څخه ده، چې اوس مهال هم د راستنېدونکو کډوالو د هرکلي او خدمتونو لپاره په بېلابېلو مرکزونو، اسلام قلعه، تورخم، سپین‌بولدک او نیمروز کې روغتیایي اسانتیاوې، خوراکي مرستې او بېړني خدمتونه برابروي.

نوموړي ویلي، چې د افغاني سرې میاشتې ټولنه د هېواد له مهمو مرستندویه بنسټونو څخه ده، چې د بشري مرستو، روغتیایي خدمتونو، د طبیعي پېښو د زیانمنو شویو کسانو د ملاتړ او له کډوالو سره د مرستې په برخو کې فعالیت کوي.

د ده په وینا، دغې ټولنې په وروستیو کلونو کې د درملنې او بېړنیو مرستو په برخه کې خپل خدمات لا پراخ کړي دي.

د زابل شاجوی ولسوالۍ کې ...

مرسته کړې او که اړتیا شي، نوره مرسته هم کوي.»

د شاجوی ولسوالۍ اوسېدونکي، عبدالصمد همت وایي: «دلته شورا لرو، د هغې شورا له لارې مو خلک راټول کړل، بیا مو ورته د زده کړو اهمیت بیان کړ، چې وروسته خلکو د هر اړخیزې مرستې ډاډ راکړ او یوازې مو دغه ښوونځی په ۵۰۰ زره افغانۍ جوړ کړ.» زابل کې دا مهال ۱۶۰ ښوونځي فعال دي چې ۶۰ یې ودانۍ نه لري.

په دغو ښوونځیو کې شاوخوا ۸۵ زره زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.

جګړه د افغانستان او پاکستان ...

چې په وروستیو بریدونو کې قربانیان ماشومان او ښځې وې، نه مخالفین او نه هم د ټي ټي پي غړي.»

د یادونې وړ ده چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ له وروستیو ترینګلتیاوو وروسته، د دواړو هېوادونو اړیکې نوي پړاو ته داخلې شوې دي. د پاکستان پر وروستیو بریدونو ګڼ نړیوال غبرګونونه هم ښودل شوي دي.

د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق یونیسف ، د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي دفتر یوناما او اروپایي ټولنې د دغو بریدونو په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

یادو بنسټونو یو ځل بیا له ټولو ښکېلو لوریو غوښتي چې د نړیوال بشر دوستانه حقوقو اصول، په ځانګړې توګه د احتیاط، د ملکي او پوځي اهدافو د تفکیک او د تناسب اصل رعایت کړي.

د معلولینو او یتیمانو د ټولنې ...

څخه برخمن دي، کله چې د معلولینو او یتیمانو حقونه په بشپړه توګه خوندي شي، هغوی کولای شي په عزت سره ژوند وکړي، خپل استعدادونو ته وده ورکړي او د هېواد په پرمختګ کې اغېزمن رول ولوبوي».

د خاموش په وینا: دولت د ټولنې د ټولو وګړو، په ځانګړې توګه د معلولینو او یتیمانو، د حقونو د ساتنې او د هغوی د هوساینې مسؤلیت لري خو معلولینو او یتیمانو ته د باعزته ژوند، زده کړې، روغتیا، ټولنیز ملاتړ او د پرمختګ مناسب فرصتونه برابر کړي. همدارنګه، باید د کار او مسلکي زده کړو زمینه ورته برابره کړي. د معلولینو او یتیمانو لپاره د زده کړو د زمینې برابرول یوازې یو تعلیمي خدمت نه، بلکې د هغوی د اساسي حقونو د تحقق، د بېوزلۍ د کمولو، د ټولنیز عدالت د پیاوړتیا او د هېواد د دوامداره پرمختګ لپاره یوه مهمه پانګونه ده، ځکه زده کړه معلولینو او یتیمانو ته دا توان ورکوي چې په عزت، خپلواکۍ او مسؤلیت سره د ټولنې په پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي.

نوموړي وایي: « د معلولینو او یتیمانو د کار او وظیفې حق هغه وخت په بشپړه توګه تأمین کېدای شي چې دولت، خصوصي سکټور او ټول وګړي په ګډه د دوی د استخدام، مسلکي ودې او د کار د مناسب چاپېریال د رامنځته کولو لپاره همکاري وکړي. کله چې معلولین او یتیمان د خپلو وړتیاوو له مخې د کار مساوي فرصتونه ترلاسه کړي، نو دوی به د ټولنې په اقتصادي پرمختګ کې اغېزمن رول ولوبوي».

د ده په خبره: « د ټولنې ملاتړ د معلولینو او یتیمانو په ژوند کې ډېر مهم او مثبت اغېز لري. کله چې په ټولنه کې له دوی سره د احترام، همکارۍ او همدردۍ چلند وشي، هغوی د امنیت، ارزښت او ځان‌باورۍ احساس کوي. دا ملاتړ هغوی ته دا فرصت برابروي چې د ټولنې د فعالو غړو په توګه ژوند وکړي او خپل استعدادونو ته وده ورکړي. همدارنګه، د ټولنې اخلاقي او رواني ملاتړ د هغوی د ستونزو په کمولو کې اغېزمن دی. درناوی، هڅونه او عادلانه چلند د معلولینو او یتیمانو روحي پیاوړتیا زیاتوي، د یوازیتوب احساس کموي او د ښه راتلونکي لپاره په هغوی کې هیله او اعتماد رامنځته کوي».

همدارنګه؛ د معلولینو او یتیمانو د حقونو د خوندي کولو لپاره د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له لوري ځانګړی قانون ترتیب شوی چې د حقوقي پړاوونو د ترسره کولو په موخه د عدلیې محترم وزارت ته لېږدول شوی دی. ټاکل شوې ده چې د عدلیې وزارت له قانوني ارزونې او طی مراحلو وروسته به، د توشیح لپاره د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی حضور ته وړاندې شي. خاموش په دې ټینګار وکړ: « د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت هڅه کړې د مرستو جلبولو او د همغږۍ ایجادولو له لارې د معلولینو او یتیمانو پر وړاندې خندونه او ستونزې رفع، معیاري او ګټور خدمتونه وړاندې کړي. د دوی اقتصادي وضعیت ته په کتلو سره هڅه شوې چې یتیمانو او معلولینو ته هر کال میاشتنۍ نغدي مساعدتونه ورکړل شوي، د امارتي او خصوصي همکارو ادارو او نهادونو په مرسته د کارموندنې، روغتیایي خدمتونو، زده کړو، تحصیل، فني او حرفوي زده کړو او د تر ډېره کچه د ټولنیز ادغام زمینه برابره شوې ده».

د ده له قوله: « د زرګونو تنو یتیمانو، معلولینو او د معلولیت لرونکو وګړو د اولادونو د اقتصادي ځان بساینې او کاري مهارتونو د پیاوړتیا په موخه، د هېواد په مرکز او ځینو ولایتونو کې د فني او حرفوي زده‌کړو پروګرامونه عملي شوي دي. په دې پروګرامونو کې هغوی ته د کمپیوټر، موبایل، برېښنایي وسایلو، موټرسایکلونو، موټرونو، یخچالونو، ایرکنډیشنونو ترمیم، د خیاطۍ حرفې او په نورو برخو کې مسلکي زده کړې ورکول شوي».

یو تن معلولو سهار ګل سهار وایي: د خیاطۍ په برخه کې مې تخنیکي او حرفوي زده کړې کړې دي چې د یو معلول وګړي په توګه مې په ټولنه کې د نورو په شان حقوق ترلاسه کړي دي. همدا چارې مې اقتصادي ستونزې حل کړې او د هېوادوالو خدمت د کالیو ګنډلو له لارې کوم.

زیارمل هوتک

د شباشک په کان کې ...

برخو کې تخنیکي هڅې وبللې.

د نوموړي په خبره، یاد استخراج شوي سکاره د کورني بازار د منظمې عرضې له لارې د هېواد د انرژۍ د اړتیاوو په پوره کولو او د اقتصادي ودې په پیاوړتیا کې مهم او اغېزناک رول لري.

هېره دې نه وي، چې د ډېرو سکاره د افغانستان له مهمو طبیعي زېرمو څخه شمېرل کېږي چې دا مهال پکې ګڼ شمېر کسان په کار بوخت دي.

د بیهقي کتاب‌پلورنځي ...

کتاب‌پلورونکو ته وسپارل شي.

ځینې کتاب‌پلورونکي بیا غوښتنه کوي چې د بیارغونې بهیر تر پای ته رسېدو پورې دې ورته یو لنډمهاله ځای ورکړل شي، څو خپلو کارونو ته دوام ورکړي.

دوی ټینګار کوي چې د دې مرکز د جوړېدو کار باید ژر تر ژره بشپړ شي.

د بلخ د سیمه‌ییز حکومت د نوي پلان له مخې، د روضې شریف شاوخوا لسګونه زاړه سوداګریز مرکزونه، چې د مسؤلینو په خبره د نړېدو له ګواښ سره مخ دي، نړول کېږي او پر ځای به یې په عصري امکاناتو او معیارونو برابر نوي مرکزونه جوړ شي.

د اسرائیلي رژیم جګړې ...

چې د غزې تړانګې په مرکزي سیمه کې د اوبو د ترلاسه کولو لپاره ورغلي وو. په دغه برید کې یو فلسطیني ماشوم شهید او بل ټپي شوی دی.

د راپورونو له مخې، ګڼ فلسطیني بې‌ځایه شوي، د خپلو کورونو د ویجاړېدو او د اوبو رسولو د شبکو د نشتوالي له امله، د څښاک اوبو د ترلاسه کولو لپاره عامه ځایونو ته تللي دي.

امریکا باید له جګړې ...

د ایران او عمان ګډ مدیریت دوام ومومي او هغه څه چې نوموړي یې (د امریکا ورانوونکي اقدامات بللي)، کم شي، نو د ترانزیټي همکاریو د پراختیا لپاره به لا زیات فرصتونه رامنځته شي.

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې د ایران، اسرائیلو او امریکا ترمنځ له وروستۍ نښتې وروسته لا هم سیمه‌ییز کړکېچونه د منځني ختیځ پر سیاسي او امنیتي بدلونونو سیوری غوړولی دی.

د سعودي الوتکو له لوري ...

د یمن وسله‌والو ځواکونو له خلکو غوښتي، چې د خپل مشر عبدالملک بدرالدین حوثي د لارښوونو ملاتړ ته دوام ورکړي او ټینګار یې کړی، چې د هر ډول احتمالي اقدام لپاره بشپړ چمتووالی لري.

د اعلامیې په پای کې د صنعا نړیوال هوایي ډګر د محاصرې د پای ته رسېدو غوښتنه شوې او د ایران له هغې همکارۍ څخه مننه شوې، چې د ناروغانو او ټپیانو د لېږد او د جنازې په مراسمو کې یې د ګډون مرسته کړې ده.

Hewad Daily

اسعـــارو بیعـــه	
یـو ډالـر	٦٥.٨٠ افـ
یـو یـورو	٧٤.٥٠ افـ
یـو پونـډ	٨٥.٢٠ افـ
یـو درهم	١٧.٩٢ افـ
زر ریـــال	٠٣٧ افـ
زر کلداري	٢٢٨ افـ
زر کلداري	٧٤٦ افـ

بریښنایي بڼه — تـویټـر

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیـر بـریـالی
آمـر او مسئول مدیـر: محمد قـاسم عزام
مسئول سکرتر: شېـرمحمد نظري
ډیزاین مسئول: یما عرب
ویبپاڼې مسئول: ګـل ولـي افغانیــار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پتـه: اتمه ناحیـه د حضوري چمن ختیځ-کابـل

د هـــوا حـالات: ↑ ٠٤:٤٦ | کابل ٣٤°C | هرات ٣٧°C | مزار شریف ٣٩°C | کندهار ٤١°C | هلمند ٤٤°C | فراه ٤٣°C | غزنـی ٣٢°C | ↓ ٠٧:٩

د کلیو ، بیارغونې او پراختیا وزیر:

د پراختیایي پروژو په پلي کېدو کې لومړیتوبونه په پام کې نیسو

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر ملا عبداللطیف منصور، د شنبې په ورځ په خپل کاري دفتر کې د پکتیا له والي مولوي مهرالله حماد سره کتلي دي. د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو له مخې؛ په دې کتنه کې د پکتیا والي په دغه ولایت کې د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت له اغېزمنوکارونو څخه مننه کړې او ویلي یې دي: ((د اسلامي امارت په بیا واکمنۍ سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې بېلابېلې پراختیایي پروژې پلي شوې او زموږ ولس ترې ګټه پورته کوي.)) ده د پکتیا خلکو د اړتیاوو پر بنسټ د پاکو اوبو رسولو، پلونو، پلګوټو او کلیوالي سړکونو د جوړولو پروژو د پلي کېدو غوښتنه کړې ده.

دغه راز د کلیو بیارغونې او پراختیا وزیر ویلي، چې دغه وزارت د پروژو پلي کولو پر مهال لومړیتوبونه په پام کې نیسي او د متوازن انکشاف له مخې کار کوي.

ده زیاته کړې ده: ((موږ تل هڅې کوو، چې خپل ولس ته داسې تولګټې او پراختیایي پروژې پلې کړو، چې له اسانتیاوو څخه یې څوک بې برخې پاتې نه شي.))

سیاسي شنونکي:

جګړه د افغانستان او پاکستان د کړکېچ د حل لاره نه ده

د تیره اوونۍ د پاکستان پوځ د پکتیا، پکتیکا او کنړ ولایتونو په ځینو سیمو هوایي بریدونه وکړل، چې له امله یې ګڼ شمېر افغانان شهیدان او ټپیان شول. دغو بریدونو پراخ نړیوال غبرګونونه هم راوپارول، اسلامي امارت دا بریدونه په سختو ټکو وغندل او په کابل کې یې د پاکستان د سفارت شارژدافیر د وضاحت لپاره احضار کړ. د دغو ترینګلتیاوو په دوام، اسلامي امارت هم د بلوچستان په ځینو سیمو کې د بې‌پیلوټه الوتکو بریدونه ترسره کړل. په همدې حال کې، یو شمېر سیاسي شنونکي وایي چې جګړه د ستونزو د حل لاره نه ده او دواړه هېوادونه باید خپلې شخړې د ډیپلوماسۍ او خبرو اترو له لارې حل کړي.

د دوی په باور، جګړه یوازې د دواړو غاړو ملکي وګړي زیانمنوي او د افغانستان او پاکستان ترمنځ هېڅ یوه ستونزه نه شي هوارولای.

سیاسي شنونکی عبادالله صادق په دې اړه وایي: «دواړه لوري باید خپلمنځي غونډې وکړي، یو له بل سره خبرې وکړي او د سیاسي تعامل او مذاکراتو په بهیر کې باید هېڅ لوری پر بل بې‌بنسټه تورونه ونه لګوي او د جګړې لپاره زمینه برابره نه کړي. باید دایمي اوربند اعلان شي او د خبرو پر مهال باید داسې هېڅ اقدام ونه شي چې دغه اوربند زیانمن کړي.»

بل سیاسي شنونکی صفي‌الله عزیزي وایي، خبرې هغه وخت مانا پیدا کوي چې پاکستان په رښتینولۍ سره د مذاکراتو مېز ته کېنېني.

نوموړی په دې اړه وایي: «خبرې هغه وخت ګټورې وي چې پاکستان په رښتیني اراده د مذاکراتو مېز ته کېنېني، په خپلو ژمنو عمل وکړي او پر خپلو خبرو ودرېږي. له بده مرغه، پاکستان بیا بیا خپلې ژمنې ماتې کړې دي. موږ ولیدل ...

۳مخ

د سرپل د تاریخي ابداتو د ساتنې په موخه ناسته ترسره شوه

د سرپل د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس ملا عبدالغفار حقنما د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر له معین مولوي عتیق الله عزیزي سره کتلي دي. په دې ناسته کې د تاریخي اثارو د ساتنې، د تاریخي ابداتو او

لرغونو سیمو بیارغونې او ثبت، د شهیدانو د څلیو جوړولو او د زمري د ۲۴مې چې د افغانستان د اسلامي امارت د مجاهدینو د بریا ورځ بلل کېږي د شاندارو مراسمو د ترسره کولو پر اهمیت خبرې وشوې.

باختراطلاعاتي اژانس د استول شویو معلوماتو پر بنسټ، ناسته کې د وزارت مسؤلینو له لوري په یادو برخو کې د همکارۍ ډاډ ورکړل شوی او ټینګار شوی، چې پلان شوي پروګرامونه به ډېر ژر پلي کړي.

بهرني لنډ خبرونه

د اسرائیلي رژیم جګړې د غزې له ۹۰ سلنې ډېره برخه ویجاړه کړې

د الجزیرې خبري شبکې د غزې د جګړې له زرمې ورځې سره هم‌مهاله راپور ورکړی، چې د غزې تړانګې له ۹۰ سلنې ډېره برخه ویجاړه شوې او صهیونیستي رژیم د دې سیمې پر ۸۰ سلنه خاوره ولکه ټینګه کړې ده.

راپور زیاتوي، چې اسرائیلي رژیم د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر له اوومې نېټې راهیسې لږ تر لږه ۷۳ زره او ۶۶ فلسطینیان په غزه کې شهیدان کړي دي.

د راپورونو له مخې، د غزې تړانګې له ۸۰ سلنې ډېرو اوسېدونکو خپل کورونه له لاسه ورکړي او دغې جګړې تر ۷۵ زرو ډېر یتیمان پرېښي دي. بلخوا، د اسرائیلي رژیم د یوې بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې، هغه ماشومان په نښه شوي ...

۳مخ

محمدباقر قالیباف:

امریکا باید له جګړې وروسته د سیمې نوي واقعیتونه ومني

د ایران د پارلمان رئیس محمدباقر قالیباف ویلي، چې امریکا باید د ایران، اسرائیلي رژیم او امریکا ترمنځ د وروستۍ جګړې له پای وروسته رامنځته شوي نوي سیمه‌ییز واقعیتونه ومني او خپلې تګلارې د سیمې له نوو

شرایطو سره برابرې کړي. قالیباف دغه څرګندونې د ازبکستان د پارلمان له رئیس سره په لیدنه کې کړې او ویلي یې دي چې له جګړې وروسته بدلونونو امریکا دې ته اړه کړې، چې شته واقعیتونه ومني.

ده زیاته کړه: «شرایط د پخوا په پرتله ښه شوي او په داسې فضا کې سوداګریزې اړیکې کولای شي لا ډېرې پراخې شي. هیله لرو، چې د بندیزونو د لرې کولو لپاره هم زمینه برابره شي.»

د ایران د پارلمان رئیس د فارس خلیج او د هرمز تنګي وضعیت ته په اشارې سره ویلي: که په دې سمندري لاره کې ...

۳مخ

د یمني پوځ ویاند:

د سعودي الوتکو له لوري د ایران ملکي الوتکې د ښکته کېدو د مخنیوي هڅه ناکامه شوه

د یمن وسله‌والو ځواکونو اعلان کړی، چې د شنبې په ورځ شاوخوا ۵:۲۰ بجې د سعودي جنګي الوتکو هڅه وکړه څو یوه ایراني ملکي الوتکه د صنعا نړیوال هوایي ډګر کې د ښکته کېدو مخه ونیسي.

د اعلامیې له مخې، یادې الوتکې کې له ۲۰۰ څخه زیات ناروغان او ټپیان لېږدول؛ خو د یمن هوایي دفاعي ځواکونو د توغندیز غبرګون له امله سعودي الوتکې شاتګ ته اړ شوې او ایراني الوتکه په خوندي ډول ښکته شوې ده. یمني ځواکونو خبرداری ورکړی، که سعودي عربستان بیا د یمن د هوایي حریم د سرغړونې یا د ملکي الوتنو د مخنیوي هڅه وکړي، نو د دوی هوایي ډګرونه او نور حیاتي اهداف به په مستقیم ډول په نښه شي.

په اعلامیه کې همداراز ویل شوي، چې د یمن پر ضد د سعودي او امریکا له لوري لګېدلې محاصره به ونه مني او د هغې د پای ته رسولو لپاره به ټول مشروع اقدامات وکړي ...

۳مخ

پنجشېر کې د څلور ډوله طبي بوټو د پلور تړون لاسلیک شو

د پنجشېر د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسؤلینو ویلي، چې د دغه ولایت څلور ډوله طبي بوټو د پلور تړون د ازادي داوطلبۍ له لارې له یوه خصوصي سکټور سره د ۹۸۱ زره ۷۴۰ افغانیو په ارزښت لاسلیک شو.

د یاد ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس قاري فضل الله دیوبند په وینا پنجانګشت، شبره کمال، لروک، خینه‌کاه هغه بوټي دي، چې قراردادي شرکت یې د راټولولو او پلور چارې پر مخ وړي.

سیمه ییزو مسئولینو ویلی چې شتل، رخه، عنابه، حصه اول او پریان هغه ولسوالۍ دي چې پکې دا ډول بوټي زیات موندل کېږي.

د هغوی په وینا، اوسمهال په یاد ولایت کې ۳۹ ډوله طبي بوټي پېژندل شوي، چې د راټولولو او پلورلو چارې یې په قانوني ډول ترسره کېږي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت:

د معلولینو او یتیمانو د ټولنې سره د اغېزمن ادغام لپاره حرفوي او تخنیکي زده‌کړې پیاوړې شوې

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسؤلینو ویلي دي چې د هېواد معلول او یتیم کهول ملاتړ له بېلا بېلو لارو شوی دی چې ور سره دوی په ټولنه کې مساوي حقوق ترلاسه کوي او لا ډېر ملاتړ ته اړتیا لري. د دوی په باور چې دولت، خصوصي سکټور، مرستندویه بنسټونه او نور وګړي معلولینو او یتیمانو ته لازمې اسانتیاووې برابرې کړي او د کار او اقتصادي ځان بسیاینې په برخه کې ور سره اړینې مرستې تر سره کړي. دوی ته اوسمهال په بېلا بېلو برخو کې د حرفوي او تخنیکي زده کړو زمینه برابره چې ترې فارغ شوي کسان د کار بازار اړتیاوو ته رسېدنه کوي.

په دې هکله د یاد وزارت ویاند، مفتي فیصل خاموش د هېواد ورځپاڼې خبریال ته د مرکې له مخې ویلي دي چې، «معلولین او یتیمان د ټولنې هغه قشرونه دي چې ځانګړې پاملرنې او ملاتړ ته اړتیا لري، د زده کړې او روغتیا، اقتصادي او ټولنیز ملاتړ، د کار ور معلولینو لپاره د مناسب کاري فرصتونو برابرول او حرفوي زده کړو ته لاسرسی د معلولینو او یتیمانو له مهمو حقونو څخه ګڼل کېږي. دوی د نورو وګړو په څېر د قانون تر سیوري لاندې له مساوي حقونو ...

۳مخ

د بلخ مسئولین:

د بیهقي کتاب‌پلورنځي ودانۍ بېرته په معیاري بڼه جوړېږي

د بلخ د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسؤلین وایي، د بیهقي کتاب‌پلورنځي ودانۍ له نړېدو وروسته، بېرته د یوه معیاري سوداګریز مرکز په بڼه جوړېږي.

د مزارشریف د کتاب‌پلور دغه مشهور مرکز چې شاوخوا پنځه لسیزې مخینه لري، اوس د ښاروالۍ له لوري نړول کېږي. د مسؤلینو په خبره، د وړاندې شوې طرحې له مخې، د دغه نوي مرکز یوه برخه به کتاب‌پلورونکو ته ځانګړې شي.

د بلخ د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس، محمدالله ضرار وایي: «دا ودانۍ دومره لرغونتوب نه لري چې تاریخي ابده وبلل شي. ښایي ۵۰ یا ۶۰ کاله پخوا دا هټۍ په همدې بڼه جوړې شوې وې؛ خو اوس د نړېدو په حال کې وې.» په ورته مهال، د مزارشریف کتاب‌پلورونکي د بیهقي کتاب‌پلورنځي د فرهنګي ارزښت د ساتلو پر اهمیت ټینګار کوي او له مسؤلینو غواړي، چې تر بیارغونې وروسته هم هټۍ ...

۳مخ

د شباشک په کان کې د ډبرو سکرو ایستل ۵۰ سلنه زیات شوي

د شمال د ډبرو سکرو امارتي شرکتونو مسؤلین وایي، چې د سمنګان د شباشک په کان کې د ډبرو سکرو استخراج د تېر کال په پرتله ۵۰ سلنه زیات شوی دی. د شمال د ډبرو سکرو امارتي شرکت رئیس مولوي عبدالله حامد وایي، چې اوس مهال هره ورځ د سمنګان ولایت د شباشک له کان څخه ۳۰۰ ټنه د ډبرو سکاره استخراجېږي، په داسې حال کې چې تېر کال دا اندازه هره ورځ ۲۰۰ ټنه وه.

ده د دې زیاتوالي لامل د استخراج بهیر ښه‌والی، د تولیدي ظرفیت لوړول او په بېلابېلو عملي ...

۳مخ